بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان




د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيټه : 20 اګست 2026 ميلادی

# ګيله مند



ته له ما ، که زه له تانه ګيله مند يم
له تقديره که له ځانه ګيله مند يم

زړه مي وايي له دښمنه ګيله نه شته
وايي، وايي له جانانه ګيله مند يم

کله ، کله صداقت کول هم غم شي
د بې نيازو له ايمانه ګيله مند يم

په موسکی شونډو دې نه وينم ارمانه
ستا د اوښکو له بارانه ګيله مند يم

ځواني لاړه ، ډيره سپينه شوه « مليارہ»
د لنډ عمر له دورانه ګيله مند يم

***

عبدالحفيظ « مليار»

اصلی صفحه ــ www.said-afghani.org